# کامبخش ولی بندی کيږی ؟

قلمونه مو شی مات ژورنالستانو
دوه مخی نه لاس په سرشی ناځوانانو
د بی وزلو چیغی وختل آسمان ته
خوله مو ولی نه خلاصیږی ګمراهانو
دټوکخوروپه خدمت موکړل ځان ستړی
ولی نه لیکي غمیزی د خوارانو
کامبخش ولی په شل کالو بندی کيږی
دا فاسد رژیم رسوا کړی زر پوهانو
دا بوس سر قاضی دښمن د نهضت
ږیره یی وشکوی د هغی ای مزاریانو
هلهله په ایستیناف او قاضی جوړ کړي
چی تری وډار شی چړی او طالبانو
د قاضی او د مفتی مخونه تور کړي
په خره سپور کړی هر غلیم د افغانانو
وړل کيږی ځمونږ وطن تیږی دوری ته
اقتدار دی په وطن د زوړ فکرانو

نه رسیږی بی وزلوته یو ګوله ډوډی
په پیسو جیب ډکوی ټول پاټکیانو
دغه وضع د منلو هیڅ وړ نه دی
په شعرو مو کړی خلک پورته شاعرانو
اقتدار نه کړی را ښکته ملایان
په لیکو خپل روشنفکرو ادیبانو
نوم مو کیږدی د تاریخ په زرین پاڼو
د خوشحال توره را واخلی لیکوالانو

پوهندوی دوکتور سیدحسام (مل)

25.10.2008

www.ayend.org